


د مولانا سعید افغاني : آزاده ، ټولنیزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!

---



## انجینر محب الرحمن « خطیبي »

د نشر نیټه : 31 مې 2015 م

# زمونږ نیمګړتیاوې

په ټوپک مین دی دلته انسانان
د قلم دښمن دی دلته افغانان
ورانول او سوځولو ته تیار دی
جوړول او رغولو ته حیران
د ټوپک او دغیرت خبرې پیل شی
چې خبرې د انګریز شی یا روسان
دلته جنګ هیڅکله پای ته نه رسیږی
هر بچی یی دی غازی یا قهرمان
* * *
زنده باد او مرده باد کی ګټه نشته
علم زده کړی چې وطن کړی خپل ودان
ته چې قدر دقلم او پو هی نه کړی
نه دی شرق او نه دی غرب به شی دوستان
که ټوپک نه نور قلم ته احترام شی
نه پنجاب به غولوی نه به ایران
دښمنی او هم نفاق له ناپوهی ده
چې وی عقل بیا نفاق کی وینی زیان
محب وایی نور نفاق، جنګونه بس کړی
شی یو موټی نور په یو نوم دافغان
****
محب الرحمن « خطیبي »

بازګشت به صفحه اصلی www.said-afghani.org

---